## د کابل دپوهنتون دغمځپلی پیبنی په اړین

********

## بربران

خدای نا ترسو بربران ځوانا ن ولړل په وینه
په کا نون د علم او پوهه ودانګل له پټ کمینه
دا وحشی حیوان صفتو مخا لف دعلم او پوهي
تول صنفونه او تولګي کړل په وینه رنګینه
د هرافغا ن د کور په ننه د ما تم تغر خپور کړ
د شهید د مور اوپلار له ګوګل بهر کړ زړونه
خپل نا ولی ځیری یوځل بیا را ښکاره کړل
په غم کینیبول افغا ن دا سرکوزی اوا یړونه
دوي يوهم مسلما ن نه دي له يوسره شیطانان دی
دا نا ولي سپو ړنو را خوره کړل خپل بویونه
یاد که سا ته غلیمه چي افغا ن غچ خپل اخلي
تلوار نه کوی هیڅکله لری هر څوک دا یقینه
تو لعنت دی وی پر تا سو د **ایری منډی** زامنو
چی ظلمت مو راوړل تاسی د افغان په کور اوخونه

=======================================

### افراطی ډلو تپلو

کا بل ستا په ویر کی لوند می شو ګریوان
چي په غیږ کی دی شو ترور د پوهنی محصلان
څو خنزیرو افراطي ډلو تپلو
توی کړ وینی په ناحق د افغا نی محصلا ن
دا فغا ن په کور دغم تغر خپور کړل
دا لاس پوڅی پنجا بی تول جا سوسا ن
دا د اسلام تر نوم نمرود او شداد
دا بی پت او ګمراه کرغیړن داعشیان
دوی له یوسره جا سوس د پا کستا ن دی
دیوبیند نه تول راغلی جلادان
د دوی کسب اوکار تل افغا ن وژل دي
دا **دایری د منډی** تول حرامیان
دوی له يو سره «مل» مباح الدم دي
کوم چي وژني دوی افغا ن زوړ او ځوان

===============================================

### دیو بندی ملایان

تا چي وژنی دا قا تل مسلما ن نه دي
دا جلاد بر بر له اصله ا نسا ن نه دي

په نعره د « الله اکبر » وژنی ا فغا ن تل
دانمرود هیڅوخت په لار درحمان نه دي
دا لاس پوڅی د پنجاب اود عربو
دروغ وایی دا له سره ا فغا ن نه دي
مد رسو د پا کستا ن کی روزل شوی
دا شیطان هیڅوخت منلی قرآن نه دی
تا ته وایم افغان وروره په اخلاص
دا ناولی له وژل ستوما ن نه دي
ای د «مل» غمشریکو ا فغا نا نو
دا د ا فغا ن د ښمنان دی دوستان نه دي
==========================================

## د غضب تنور

څوک به دا بر بری د غضب تنور کی وریتي کړي
څوک به دخوشحا ل توره زر ښخ ددوی په خیتی کړي
څوک د دوي په وراندي دپاڅون غږ را پورته کړي
څوک به دا تیت پیت اولس ترون ته یو موتی کړي
څوک د دی بر برو د شکست شپیلی ووهي
یا چي دبریا وی لاس را کش زر پخپل بریتي کړي
څو ک به په تپونو د دی ګڼ اولس ملهم کیږدي
څوک د افغا ن محصلو د قا تلو اعدام پریکړي کړي
نور د اولس زغم پا تی نه دي تول بدلون غواړي
غواړی چی د اشرار د جنا زو د صف پریتی کړي
څو چی په وطن کی آرامی او قراری راشي
«مل» د دی بریا خبر خپور پخپل تویتی کړي
================================ جرمنی «02-11-2020»